**د حقوقو تعریف او ډولونه:**

حقوق عربي کلیمه ده ، او حق جمع ده.

حقوق هغه مقررات دي ، چې د یوې ټولنې د نظم د تنظیم لپاره رامنځته شوي وي.

**حقوق په دوه برخو وېشل شوي:**

۱ افاقي حقوق ۲ عندي حقوق

افاقي حقوق : د هغو مقرراتو او قواعدو مجموعه ده ، چې د واکم مقام له خوا وضع او د ټولنې په ټولو وګړو په جبري ډول تطبیقېږي.

**افاقي حقوق په دوه برخو وېشل شوي :**

۱ ملي حقوق ۲ نړیوال حقوق

**ملي حقوق هم په دوه برخو وېشل شوي :**

۱ عامه حقوق ۲ ځانګړي حقوق

**عامه حقوق په پنځو برخو وېشل شوي:**

۱ اساسي حقوق ، ۲ اداري حقوق ، ۳ جزایي حقوق ، ۴ مالي حقوق ، ۵ د کار حقوق

**ځانګړي حقوق هم په پنځو برخو وېشل شوي :**

۱ د میراث حقوق ، ۲ د وجایبو حقوق ، ۳ د کورنۍ حقوق ، ۴ د تجارت حقوق ، ۵ عیني حقوق

**نړیوال حقوق په دریو برخو وېشل شوي :**

۱ نړیوال عمومي حقوق ، ۲ نړیوال خصوصي حقوق ، ۳ نړیوال جزایي حقوق

**عندي حقوق**

عندي عربي کلیمه ده ، چې د ذاتي او نفسي مانا لري.

عندي حقوق عبارت له هغه صلاحیت ، قدرت او امتیاز څخه دي ، چې یو شخص یې د بل شخص ، یا یې یو شخص د بل شي یا جنس په مقابل کې لري.

**عندي حقوق په درې برخو ویشل شوي :**

۱ عامه حقوق ، ۲ ځانګړي حقوق ، ۳ سیاسي حقوق

=========================

د وضعي قانون مؤسس ، محورابي دی.

وضعي قانون ، له میلاد څخه ۲۰۰۰ کاله وړاندې وضع شوی

د ایمان ارکان ۷ دي